﴿ ۱ ﴾

# ابوالفضل محمد بیهقي د افغانستان لوی مؤرخ

د سبکتګین د لویې کورنۍ په پادشاهۍ کې چې د غزني ښار د آسيا يو لوی علمي او هنري او سياسي مرکز او پايتخت وُ، دا ښار لکه د جنګاورانو او سياسي مدبرانو ټولټون چې وُ دغسې د لويو ليکوالو او پوهانو او شاعرانو مرکز هم وُ.

د افغانستان په تاريخ کې که موږ د هنر او ادب او علم او سياست يوه زرينه پاڼه لرو نو هغه د غزنويانو په دوره پورې اړه لري، او دا ښار زموږ د خراساني اسلامي ثقافت روزنتون ګڼل کيږي.

غزنه تر اسلام دمخه هم يو متوسط ښار وُ دلته به کله د زابلستان د لوی ولايت مرکز هم جوړېدئ، او هغه وخت چې چيني زاير هيون تسنګ تر ۹ هـ کال وروسته په افغانستان کې ګرزېدئ، دا ښار هم موجود وُ، دلته بودايي شابهارونه يعنې معبدونه وو چې د يوه لوی بودايي معبد آثار اوس د تپهٔ سردار پر سر باندې د اکتشاف او کيندلو او څرګندېدلو په حال کې دي.

داسې ښکاري چې د اسلام په لومړۍ پېړۍ کې دلته د لويکانو کورنۍ پادشاهي کوله او کله چې د دريمې پېړۍ په منځ کې يعقوب ليث صفاري د سيستان لوی پاچا دا ښار ونيوئ، نو لويکانو خپل سياسي مرکز ګرديز ته نقل کئ، او بيا ناصرالدين سبکتګين دا ښار خپل پايتخت کئ او

د (۳۶۶ هـ) کال د شعبان په میاشت کي دلته پر تخت کښېنوست او په پروان کي سکه و وهله.

امیر سبکتګین په (۳۸۷ هـ) کال د بلخ او غزني پر لار د مدرموی په کلي کي مړ سو، او تر ده وروسته یې مشهور زوی یمین الدوله سلطان محمود د غزني پر تخت کښېنوست او دا هغه د خراسان لوی پادشاه و، چې د دجلې د څنډو څخه تر ګنګا پورې یې لوی غزنوي سلطنت جوړ کئ.

په دې وخت کي د هنري او علمي او سیاسي او جنګي مشاهیرو په ډلو کي د دري ژبي ځني زبردست لیکوال او مورخان هم په غزني کي وو، چې له دغې ډلې څخه یو ابوالفضل محمد بن حسین بیهقي دئ. چې په (۳۸۵ هـ) د خراسان د بیهق د حارثاباد په کلي کي پیدا سوئ او په نشاپور کي د علم تحصیل کړئ و، دی په ځواني کي د خواجه بونصر مشکان لوی سرمنشي تر لاس لاندي د سلطان محمود د دربار منشي و، او بیا کله چې د سلطان مسعود د پادشاهۍ په آخرو کي بوسهل زوزني سرمنشي و، نو بیهقي هم په دربار کي و، او شاهي مراسلات به یې لیکل، د شاهي دربار معما یعنی رمز دفتر هم له ده سره و، د سیاست او اداري او جنګي کارو او درباري اختلافاتو په منځ کي واقع و، د وزیرانو او د غزنوي دوري له لویو خلکو او شهزادګانو او وزیرانو او سپه سالارانو سره محشور و او په ډېرو جنګي سفرونو کي د پادشاهانو ملګری و، او حتی په هغه سفر کي هم د سلطان مسعود سره و چې دغه پادشاه د خراسان په دندانقان کي اوسني اندخوی ته نژدې په (۴۳۲ هـ) د سلجوقیانو څخه شکست وخوړ او ټول درباري رجال سره خپاره سول، او پخپله بیهقي په ډېر مشقت پناه د غرستان او غور پر خوا غزني ته راغی.



کله چې سلطان مسعود په همدغه کال له غزني څخه وتښتېد، او تر حسن ابدال ها خواته د مرګیلې په کوتل کي خپلو لښکریانو ونیوئ او په ګهړی کي وواژه، نو د غزنویانو لوی او قوی سلطنت ټوټې ټوټې سو، او د شاهزاده ګانو خانه جنګۍ شورو سوې، د فتور په دغه اوږده دوره کي هم بیهقي په غزني او دربار کي و، او لکه عوفي چې ویلي دي، د سلطان عبدالرشید بن سلطان محمود په سلطنت کي تر (۴۴۲ هـ) سوري د دیوان رسالت سرمنشي و، مګر په همدغه کال د سلطان محمود یو غلام طغریل راغی او غزني یې ونیوئ، محمودي شهزادګان او سلطان عبدالرشید یې و وژل، او بیهقي هم د غزني په بالاحصار کي بندي سو.

وروسته چې بیهقي له دې زندانه خلاص سو، نو په کور کي کښېنوست او خپل مشهور کتاب تاریخ آل سبکتګین یې په خوږه او ډېره ښکلې دري ولیکئ، چې دغه تاریخ دېرش جلده و، او د سلطان ابراهیم تر عصره یې د غزنوي شاهانو تاریخ کښلئ و، او یو بل کتاب یې هم د زینة الکتاب په نامه د انشاء په باب کي تالیف کئ.

د تاریخ بیهقي نور جلدونه اوس ورک دي، او فقط هغه برخه یې سته چې د سلطان مسعود د سلطنت حال پکښې لیکل سوئ دئ او ځکه چې بیهقي په دې تاریخ کي خپل لیدلي حالونه کښلي دي، نو ډېر ښه او مفید تاریخ ګڼل کېږي، او که دغه ګرده کتاب اوس زموږ په لاس کي وای، نو به د غزنوي دورې تاریخ ډېر روښانه او ښه څرګند وای.

بیهقي د تاریخ په لیکنه کي دوې ښېګڼې خوندي کړېدي: لومړی دا چې دی د دري ژبي یو خورا قوي او تکړه لیکوال دئ، چې ژبه یې خورا خوږه او بیان یې ښکلی او د سهلو وړ دئ، او د دري ژبي په خراساني نثر لیکونکو کي اوله درجه لري. او دا ښکاره کوي چې د دری نثر په غزني

کې په څه ډول کښل کېدئ؟ شاهي رسايل او فرامين او مکتوبونه څنګه وو؟

او د ده کتاب د دري په سبك شناسی او انشاء کي ډېر لوړ مقام لري، او د دري ژبي د غزنوي دورې يو شهکار ګڼل کيږي.

د بيهقي بل مزيد د يوه مورخ په ډول دا دئ : چي ده اکثر وقايع پخپلو سترګو ليدلي او کښلي دي. **نو له دې جهته** لکه نور نقال مورخان سهو او خطا ډيره لږ لري، او د خپل ليدنو او اوريدنو څخه حکايت کوي.

بله دا ده چي بيهقي خورا رشتيا ويونکی او صادق او صريح اللهجه او روك پوك ليکونکی مورخ دئ، د خپل عصر اوضاع په ښکاره توګه وايي، د شاهانو او رجالو او وزيرانو او مقتدرانو کارونه د انتقاد په نظر کره کوي، او د دوی د صلاح او فساد دواړي خواوي څرګندوي، درباري فسادونه، د عياشي مناظر، د شاهانو د رای خطاوی، د رجالو رقابتونه او د دغو اعمالو عواقب په ښکاره ډول بيانوي. او دا هغه خصوصيت دئ چي فقط د بيهقي په قلم کي ښکاري، او اکثر مورخان يې نه لري، او ځکه چي دی په شاهي ديوان رسالت يعنی دارالانشاء کي و او ټول رسمي اسناد يې ليدل، نو کله کله هغه رسمي سندونه کټ مټ هم رانقلوي. چي د مورخانو لپاره خورا ګټور دي.

بيهقي د تاريخ ليکلو آينده مسئوليت ته ملتفت دئ، په اکثر ځايو کي يوازې وقايع نګار نه دئ، بلکي د واقعو نتايج هم ښيي، او رشتيا وايي، له تعصبه تښتي، او پخپله د خپلي تاريخ ليکني شيوه داسي ښيي:

"در تاريخي که من کنم سخن نرانم که آن به تعصبی و تربدي کشد و خوانندگان اين تصنيف گويند که شرم باد اين پير را، بلکه آن گويم که خوانندگان بامن اندرين موافقت کنند و طعنی نزنند."



بل ځای دی تاريخ يوازې د واقعو ثبتول نه ګڼي، بلکي د تاريخ فلسفه هم تر نظر لاندي لري، او داسي وايي :

"اگر چه اين اقاصيص از تاريخ دور است، چه در تواريخ چنان ميخوانند که فلان پادشاه فلان سالار را بفلان جنگ فرستاد و فلان روز جنگ يا صلح کردند و اين آنرا يا او اين را بزد و برين بگذشتند اما آنچه و اجبست بجاي آورم."

دا واجب چي بيهقي يې د يوه حقيقت ليدونکي مورخ په ډول مني څه شی و؟ هغه د واقعو اصلي رنګ ښوول وو که څه هم دی د سلطان محمود د لمسيانو په دربارو کي سرمنشي و مګر د دوی په باب کې هم حقايق نه هېرول، د سلطان مسعود مهرباني هې فريب ګانه، او د هغه درباري رجال يې په دې عبارت ستايل : "نه مردانند و نه زنان" او بل ځای وايي :

"و رفتم بر مير کار تاريخ که بسيار عجايب است در پرده و اگر زندگاني باشد آورده آيد."

له دغو عجايبو څخه يوه نمونه دا ده : چي احمدنيالتګين د سلطان محمد د دربار لوی سړی و، کله چي سلطان مسعود پاچا سو نو يې د هندوستان په حکومت له دې جهته مقرر کئ، چي له مرکزه ليري وي، او فتنه جوړه نه کي، احمد چي لاهور ته ورسېدئ هلته يې پخپله استقلال اعلان کئ، او د سلطان محمود د زوی والي دعوا يې وکړه، بيهقي دغه حقايق داسي بيانوي :

"و اين احمد مرد شهم بود، و او را عطسهٔ امير محمود گفتندی، و بد و نيك بدانستی، و در حديث ها در ولادت وی و امير محمود سخن گفتندی، و بوده بود ميان وی يعنی آن پادشاه و مادرش حالی بدوستی، و

حقيقت خدای عزوجل داند." په دې ډول د بيهقي کتاب د عصر يوه رڼه هنداره ده، حقايق ښه پکښې ښکارېږي، دی يوازې وقايع نگار نه دئ، بلکې نقاد هم دئ،د ده په نظر کې تاريخ يوازې د واقعو ثبتول نه دي بلکې تحليل او استنتاج هم دئ.

د وطن دغه رښتيا ويونکی او حقيقت ليدونکی مؤرخ د ۴۷۰ هـ کال په صفره کې ظاهراً په غزني کې وفات سوئ دئ، چې قبر يې اوس نه دئ معلوم. مگر د ده د تاريخ کومه برخه چې راپاتې ده، د ده د تاريخ ليکنې لوړ مقام راښيي. (۱)

---

(۱) عرفان مجله، ۱۳۴۸ ل کال، لومړی گڼه، ۷۷ ـ ۸۱ مخونه.